
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د رسامۍ هنر

## لومړی ټولګی



Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسی کتابونه دپوهنې په وزارت پورې اړه لــري په بازار کې یې اخیستنه او خرڅونه په کلکه منع ده. له سر غړونکو سره قانوني چلند کیږي.

ISBN 978-9936-25-157-1

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د رسامۍ هنر

## لومړی ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمېټې

## لیکوالان:

محمدظاهر طاهري د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت آمر.
سید انور مېچنخېل د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی.
حفیظ الله منیر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی.

## تایید او مطالعه:

## ملي شورا:

د ولسي او مشرانو جرگو د دیني، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

## د څېړنې او تدقیق کمیټې:

### د علومو اکاډمي:

سر څېړونکی عبدالواجد واجد د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د مرکز رئیس.

### د کابل پوهنتون:

پوهندوی محمد رفیق رفیق د کابل پو هنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې استاد.
نجیب الله عزیزی د کابل پوهنتون د ښکلو هنرونو د پوهنځي مرستیال.

### د پوهني وزارت:

سعدالدین شپون د پوهني وزارت سلاکار .
داکتر صدیق الله ویرا د پوهني وزارت سلاکار.
شیرآقا صنعتیار د هنرونو د دیپارتمنت غړی.
ادیتور: سیف الرحمن آشنا

## د محتویاتو، سیاسي، فرهنگي، او دیني برخو د څېړني او کره کتنې کمېټې:

دکتور محمد یوسف نیازي د پوهنې وزارت سلا کار.
محمد آصف ننگ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

## د تدقیق، تصحیح او څارنې کمیسیون:

دکتور عبدالغفور غزنوي د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین- د کمیسیون رئیس.
د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر گلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.- غړی
سید محمود خلیق د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست علمي غړی- غړی

### کمپوز او ډیزاین:

**عنایت الله غفاري او حمیدالله غفاري**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی — دا عزت د هـــر افغان دی

کور د سولې کور د توري — هر بچي يې قهرمـــان دی

دا وطن د ټولو کـور دی — د بلوڅــــو د ازبکــــو

د پښتـــون او هزاره وو — د ترکمنـــو د تاجکــــو

ورسره عرب، ګوجـــر دي — پامیــریان، نورستانیـــان

براهوي دي، قزلباش دي — هم ايمـــاق، هم پشـه یان

دا هیـــواد به تل ځلیږي — لکــه لمــر پر شنه آسمـان

په سینـــه کې د آسیـــا به — لکـــه زړه وي جـــاويدان

نوم د حق مودی رهبـــر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوهنې د وزير پيغام**

**گرانو استادانو، ښوونكو او زده كوونكو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توكى دى چې د علمي پرمختگ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته كيږي. ځرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال كې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انكشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا كتاب چې نن ستاسو په لاس كې دى، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوى دى. علمي گټورې موضوعگانې پكې زياتې شوې دي. د زده كړې په بهير كې د زده كوونكو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه گرځېدلې ده.

هيله من يم دا كتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده كړې د ميتودونو د كارولو له لارې تدريس شي او د زده‌كوونكو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باكيفيته ښوونه او روزنه كې پرله پسې گډه مرسته وكړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده‌كوونكو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه كړي.

زه پر دې ټكي پوره باور لرم چې زموږ گران استادان او ښوونكي د تعليمي نصاب په رغنده پلي كولو كې ستره دنده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار كاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستى د پاك حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د ځرگندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډگر كې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌كوونكو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي كتابونو په لا ښه تاليف كې مرسته وكړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې كتاب په چمتو كولو او ترتيب كې يې مرسته كړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملگرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو كولو او تدوين او د درسي كتابونو په چاپ او وېش كې يې مرسته كړې ده، مننه او درناوى كوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړی ټولګی د هنر کتاب نوم لیکي (فهرست)


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| ۱ - د چمتووالي دوره ........................................ | ۲-۱ |
| ۲ - آزادې کرښې.................................................... | ۴-۳ |
| ۳-منظمې کرښې................................................. | ٦-۵ |
| ۴ - کور.............................................................. | ۸-۷ |
| ۵ - رنګونه ................................................ | ۱۰-۹ |
| ٦-د رنګونو یوځای کول........................................ | ۱۲-۱۱ |
| ۷- سابه ........................................................ | ۱۴-۱۳ |
| ۸- مېوې.......................................................... | ۱٦-۱۵ |
| ۹- د مېوو رنګول .......................................... | ۱۸-۱۷ |
| ۱۰- د مېوو مودل ............................................ | ۲۰-۱۹ |
| ۱۱- د مېوو لاسي کار........................................ | ۲۲-۲۱ |
| ۱۲- د پاڼو ټاپه کول ........................................ | ۲۴-۲۳ |
| ۱۳- د ونې پاڼه ........................................ | ۲٦-۲۵ |
| ۱۴- د رنګونو ترکیب ....................................... | ۲۸-۲۷ |
| ۱۵- د ونو د پاڼو رنګه کول ................................. | ۳۰-۲۹ |
| ۱٦- له بیلو بیلو شکلونو څخه د مرغۍ جوړول................. | ۳۲-۳۱ |
| ۱۷-د ونې د پاڼې ډیزاین..................................... | ۳۴-۳۳ |
| ۱۸- پیشو............................................................ | ۳٦-۳۵ |
| ۱۹- پیشوګانې................................................. | ۳۸-۳۷ |
| ۲۰-کبان .................... ............................... | ۴۰-۳۹ |
| ۲۱- کبان په خپل چاپیریال کې.............................. | ۴۲-۴۱ |
| ۲۲- ګل...................... ............................. | ۴۴-۴۳ |
| ۲۳- د ګل رنګول............... ........................... | ۴٦-۴۵ |
| ۲۴-له کاغذ څخه دګل جوړول................................. | ۴۸-۴۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۵-د گل ډیزاین.............................................. ۴۹-۵۰
۲٦-د ډیزاین رنګه کول.................................... ۵۱-۵۲
۲۷-ډیزاین................................................... ۵۳-۵۴
۲۸ - هیلۍ................................................... ۵۵-۵٦
۲۹ - د هیلۍ رنګول........................................ ۵۷-۵۸
۳۰ - له کاغذ څخه دکوترې لاسي کار........................ ۵۹-٦۰
۳۱-د ګوتو په واسطه ټاپه کول................................ ٦۱-٦۲
۳۲ - بیړۍ.................................................... ٦۳-٦۴
۳۳ - په څنډوکې لاسي کار.................................... ٦۵-٦٦
۳۴-د پاکټ جوړول........................................ ٦۷-٦۸
۳٦ - په څنډو کې ډیزاینونه................................. ٦۹-۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library


بسم الله الرحمن الرحیم

# د چمتووالي دوره


موخه: د انځور ګرۍ له وسیلو سره د زده‌کوونکو بلدتیا اوپیژندنه.

۱. د لاندنیو شیانو نومونه اخیستلی شئ؟

۲. ووائي چې لاندني شیان دڅه شي له پاره پکاریږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library




فعالیتونه:

زده‌کوونکي دې په ډلو وویشل شي، او د انځور ګرۍ د وسیلو په هکله دې خبـــرې وکړي، او هر ګروپ دې  خپلې نظریې د ټولګیوالو په وړاندې ووایي.



ښاغلي ښوونکي دې زده‌کوونکي د انځور ګرۍ د وسیلو لېږدونو او د هغو چمتو کولو ته تیار کړي. زده‌کوونکو ته دې په ځانګړي ډول پورتنـۍ وسیلې ورویېژندل شي، اوهغوی دې د همدغو وسیلو د پاک ساتلو له پاره وهڅول شي او پورتنی فعالیت دې  په زده‌کوونکو سرته ورسول شي. د زده‌کوونکو د هڅونې له پاره دې د دوی رسمونه په میز، دیوال او یا ځمکه د لیدلو له پاره کېښودل شي او هڅه دې وکړي چې له دې کار څخه په ټولو لوستونوکې ګټه واخلي.



کورنۍ دنده: زده‌کوونکي دې د خپلې کورنۍ له غړو سره د انځور ګرۍ په وسیلو خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی لوست

# آزادې کرښې

موخه: د زده‌کوونکو د لاس د ښه خوزیدوله پاره د آزادو کرښو تمرین او زده کول.

۱. په دې پاڼه کې څه شی وینئ؟
۲. آیا ویلی شئ چې آزادې کرښې ولې کاروئ؟
۳. دا کرښې څه توپیر سره لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library




**فعاليتونه:**

زده‌کوونکي دې آزادې کرښې د لاس د حرکتونو په وسیله هرې خواته تمرین کـــړي ترڅو د دوی لاسونه د رسم کولو له پاره چمتو شي.



ښاغلی ښوونکی دې لوست په پوښتنو پیل کړي او دا دې په ټولو لوستونوکې په پام کې ونیسي او بیا دې د آزادو کرښو ارزښتونه زده‌کوونکو ته ووایي.

ښوونکی دې آزادې کرښې په پرله پسې ډول په زده‌کوونکو باندې تمرین کـــړي او دوی ته دې وویل شي چې د کاغذ پرمخ باندې د قلم نوکي ته فشار(زور) ور نکړي.



کورنۍ دنده: زده‌کوونکي دې په خپله خوښه آزادې کرښې پرله پسې تمرین کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم لوست


# منظمې کرښې

موخه: د منظمو کرښو له رسمولو سره د زده‌کوونکو د لاس بلدېدل؟

۱. په خپل ټولګي کې دا ډول کرښې لیدلی شئ؟
۲. د اکرښې د لومړي لوست د کرښو سره څه توپیر لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library




فعالیتونه:

زده‌کوونکي دې په ډلو وویشل شي او هر زده‌کوونکی دې د خپلې کتابچې پاڼې په شپږو مساوي برخو وويشي او بیا دې په هره برخه کې په نرم پنسل منظمې کرښې تمرین کړي او هم دې دا کرښې په بېلو بېلو ډولونو انځور کړي او هم دې یو بل ته په ټولګي کې منظمې کرښې وښيي.



ښاغلی ښوونکی دې د اکرښې په منظم ډول د ټولګي په تـوره دړه وکـاږي، ترڅـو زده‌کوونکي د هغو له مخې په خپلو کتابچو کې کار وکړي اوهم دې زده‌کوونکوتـه وویل شي چې د رسم کولو په وخت کې خط کش ونه کاروي، او لږ ترلـږه د دریـو ویشل شویو خانو کرښې سره یوشان نه وي، بیا دې له زده‌کوونکو څخه پوښتنه وشي چې دا ډول کرښې په خپل چاپیریال کې ښودلی شي؟



کورنۍ دنده: هرهغه څه چې زده‌کوونکي يې په خپل چاپېریال کې ويني هغه دې تمرین کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم لوست


# کور

موخه: د داسې شکلونو له طرحه کولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول چې آزادې کرښې په کې لېدل کیږي.

۱. لاندې شکل له کوم ډول کرښو څخه جوړ شوی دی؟
۲. آیا ویلی شئ چې په لاندې انځور کې کوم ډول کرښې لیدل کیږي؟
۳. د کرښو نومونه اخیستلی شئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیتونه:

زده‌کوونکي دې په ډلو وویشل شي او هر زده‌کوونکی دې پورتنی رسم ټوټـــه ټوټه رسم کړي او د بېلو بېلو کربنو څخه دې په یو ډول کربنو بشپړ کـــړي او خپل رسمونه دې بیاتي کړي او په بل کاغذ دې په ترتیب سره ونښلوي.

زده‌کوونکي دې پورتني شکل ته په ځېر سره وګوري. د هغې د کربنو په هکله دې فکر وکړي چې له کوم ډول کربنو څخه انځور جوړ شوی دی او بیا دې په خپله خوښه انځور کړي.



ښاغلو ښوونکو! پورته شکل د ټولګي په توره دړه وکاږئ او د هغې د کربنو په هکله زده‌کوونکو ته پوره معلومات ورکړئ. د بېلو بېلو کربنو په پام کې نیولو سره په زده‌کوونکو دا ډول انځور وکاږئ، او پورتنی فعالیت په زده‌کوونکو سرته ورسوئ.



**کورنۍ دنده:** زده‌کوونکي دې د خپل کور یوه برخه انځور کړي او ټولګي ته دې راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورم لوست

# رنګونه

موخه: د رنګونو له نوم سره د زده‌کوونکو آشنا کېدل.

۱. د څو ډوله رنګونو نوم اخستلی شئ؟
۲. کوم رنګ مو ډېر خوښیږي؟
۳. ستاسې کالي کوم ډول رنګ لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعاليتونه:**

زده‌کوونکي دې په ډلو وويشل شي او د بېلو بېلو رنګونو په هکله دې خبرې وکړي، او د هغو نومونه دې په ګوته کړي، او وروسته له هغې دې د هرې ډلې مشر د ټولګي په وړاندې په ټولګي او چاپيريال کې د بېلو بېلو رنګونو په هکله خبرې وکړي.



ګرانو ښوونکو! وروسته له دې چې له زده‌کوونکو څخه د رنګونونومونه وپوښتئ، د نيمګړتيا په صورت کې پورتني رنګونه چې په شکل کې ليدل کېږي د هغو نومونه واخلئ او د خپل چاپيريال رنګونه زده‌کوونکوته په عملي توګه ور وښيئ. د بيلګې په توګه د ټولګي تخته، د يوال او داسې نور.



**کورنۍ دنده:** زده‌کوونکي دې په کور کې د کورنۍ له غړو سره په بېلو بېلو رنګونو خبرې وکړي ترڅو د دوی د معلوماتو ساحه پراخه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم لوست


# د رنګونو یو ځای کول

موخه: په ساده او عملي توګه د رنګونو له ګډولو سره د زده‌کوونکو آشنا کېدل.


۱. که سور او زیړ رنګ سره یوځای شي کوم رنګ جوړوي؟

۲. کومې مېوې اوسابه چې نارنجي رنګ لري، نومونه یې واخلئ؟

۳. کوم شیان سور رنګ لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده‌کوونکي دې زيړ او سره رنګونه په عملي توګه سره ګډ کړي چې له هغو څخه کوم رنګ لاس ته راځي.



ګران ښوونکي دې د پورته شکل په شان په يوه پاڼه کاغذ کې د زده‌کوونکو په وړاندې په عملي توګه رنګونه سره يوځای کړي او د ګډ شـــويو رنګونـــو دنومونو په هکله دې له زده‌کوونکو څخه پوښتنه وکړي دنـــه پوهيـــدو پـــه صورت کې دې د هغو نومونه ور وپيژنئ. د زده‌کوونکو ترکيب شوي رنګونه دې زده کوونکو ته وروښيي!



**کورنۍ دنده:** پورتنۍ فعاليت دې زده‌کوونکي سرته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم لوست

# سابه

**موخه: د سبو له رسمولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.**

**۱. په دې مخ کې څه شی وینئ او د هغو څخه څه ګټه اخیستل کیږي؟**

**۲. په دې شکلونو کې کوم ډول خطونه لیدل کیږي؟**

۱



۲




۳



۴



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعاليتونه:**

زده‌کوونکي دې په ګروپونو وويشل شي او هرګروپ دې د سبو په ډول ډول خطونو باندې خبرې وکړي. بيادې له خپلې خوښې سره سم رسم وکاږي.



ښاغلی ښوونکی دې د سبو په هکله زده‌کوونکوته معلومات ورکړي اود خطونو له پلوه دې د انځور شوي شکل د رسمولو لارې چارې دوی ته ور زده کړي. د زده‌کوونکو په رسمونوکې دې ډول ډول خطونه هغو ته وښيې، د زده‌کوونکو د هڅونې له پـــاره دې د دوی رسمونه په ميز، د يوال او يا ځمکه د ليدلو له پاره کېښودل شي او هڅه دې وکړي چې له دې طريقې څخه په ټولو لوستونوکې ګټه واخلي!



کورنۍ دنده: هر ډول سابه چې ستاسې په چاپېريال کې پيداکيږي هغه په خپله خوښه رسم کړئ او ټولګي ته يې راوړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اووم لوست

## مېوې


**موخه: د پنسل په مرسته د ساده شکلونو رسمول او د هغو پيژندل.**

**۱. لاندې شکلونه د څه شي دي او کوم رنګونه لري؟**

**۲. ستاسو کومې مېوې ډېرې خوښيږي؟**



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعاليتونه:**

له خپلې خوښې سره سم له پورته رسمونو څخه يو انځور كړئ او له پورتـــه شـــكلونو څخه په پنډ كاغذ اويا په هغو موادو چې ستاسې په چاپېريال كې پيداكيږي لاسي كارونه جوړ كړئ.



ښاغلی ښوونكی دې د زده‌كوونكو د استعدادونو(وړتيـاوو) د هڅونې او لوړتيا له پاره د ټولګي په توره دړه رسم وكړي، ترڅو زده‌كوونكي د رسم كولو په سمه طريقه پـــوه شي. له زده‌كوونكو څخه دې وپوښتل شي چې په آزادو كرښو باندې رسم كول څـــه ګټه لري؟

زده‌كوونكي دې په ګروپونو وويشل شي او له پورته فعـــاليتونو ســـره ســـم دې پـــه زده‌كوونكو باندې كار وكړي. د دوی رسمونه د ټولګي په ديوال وځړوئ او پـــورتنی فعاليت په زده‌كوونكو سرته ورسوئ.



كورنۍ دنده: برسيره پردې شكلونو دې زده‌كوونكي په خپله خوښه د نورو مېوو رسمونه وكاږي او ټولګي ته دې راوړي او ټولګيوالو ته دې وښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اتم لوست


# د مېوو رنګول

موخه: په يوه رنګ د ځينو مېوو د رنګه کولو سره د زده‌کوونکو بلدتيا.

۱. آيا پوهيږئ چې په لاندې شکلونو کې له کومو رنګونو څخه کار اخيستل شوی دی؟

۲. برسيره په لاندنيو مېوو نورې کومې مېوې پېژنئ او رنګونه يې ووایاست؟



(c) ketabton.com: The Digital Library




فعالیتونه:

زده‌کوونکي دې له پورته انځورونو څخه یو پخپله خوښه رسم کړي. د امکان په صورت کې دې زده‌کوونکي د ښوونځي انګړ ته ووزي او هلته دې د پورتنیو مېوو ونې یوبل ته وښیي.



ښاغلی ښوونکی دې پورتني شکلونه د ټولګي په توره درې رسم کړي او زده‌کوونکو تـــه دې سپارښتنه وکړي ترڅو هغه رسم کړي. زده‌کوونکو ته دې وښودل شي چې رسمونه په کومو رنګونورنګه شوي دي او دزده‌کوونکو کار باید دپوره پاملرنې لاندې ونیـــسي او د دوی رسمونه دې په مېز، دېوال او یا ځمکه باندې د لېدلو لپاره کښېږدي.



کورنۍ دنده: له پورته شکلونو څخه یو په کور کې رسم او هغه رنګه کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست

# د مېوو موډل

موخه: د موډل له مخې له رسمولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.


۱. دا مېوې کوم رنګونه لري؟
۲. د لاندې شکلونو نمونه واخلئ!
۳. په مېوکې موکوم کوم رنګ منې خوښېږي؟







(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده‌کوونکي دې د موډل له مخې مېوې انځور کړي او هغه دې د موډل له مخـــې رنګه کړي.



ګران ښوونکی دې مېوې ټولګي ته راوړي او د مېز په سر دې د انځورولو له پـــاره کېږدي او زده‌کوونکي دې پورتنۍ فعالیـــت ســـرته ورســـوي او ښـــوونکی دې د زده‌کوونکو په رسمونو کې غبرګونونه وګوري او که د مېوو د راوړلو امکان نه وي نو بیا دې د کتاب له مخې هغه په توره دړه رسم کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## لسم لوست

# د میوو لاسي کار

موخه: د چاپېریال له ساده توکـوڅخه د لاسي کارونو د جوړولـــو پـــه اړونـــد دزده کوونکو ښوونیزو مهارتونواواستعدادونو ته وده ورکول.

۱. د لاسي کارونو جوړول څه ګټه لري؟
۲. د خپلو رسمونو له مخې لاسي کار جوړولی شئ؟
۳. د کوم ډول لاسي کارسره مینه لرئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



فعاليتونه:

زده‌کوونکي دې لومړی منه او ناک په نرم پنسل انځور کړي او بیا دې هغه بیاتې کړي. لاس ته راغلی لاسي کار دې په یوه سپین کاغذ ونښلوي.



ښاغلی ښوونکی: په یوه رنګه کاغذ کې یوه منه او یو ناک رسم کړئ او بیا هغه د زده‌کوونکو په مخکې بیاتي کړئ او زده‌کوونکي د هغو په جوړولو وګمارئ او د لاسې کارونو (تعلیماتي تکنالوژی) په هکله دوی ته معلومات ورکړئ. لطفـــاً د زده‌کوونکو لاسي کارونه ټول کړئ او په بل درسي ساعت کې د دوی د لیـــدلو لپاره کیږدئ.



کورنی دنده: له پورته شکلونوڅخه یو د لاسي کار په توګه جوړ کړئ او ټولګي ته یې راوړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library


## یوولسم لوست

# د پاڼې ټاپه کول


**موخه:** د پاڼې له ټاپه کولو سره د زده‌کوونکو آشنا کېدل.

۱. کله مو کومه پاڼه ټاپه کړې ده؟

۲. د کومې پاڼې ټاپه کول آسان دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

**زده‌کوونکي دې د ونې یوه پاڼه د کاغذ لاندې کېږدي او د پنسل په واسطه دې هغه د پورته شکل په شان ټاپه کړي.**



**ګرانو ښوونکو! د زده‌کوونکو د شمېر په اندازه د ونو مختلفي پاڼې ټولګي تــه راوړئ او تاسې په خپله د زده‌کوونکو په وړاندې یوه پاڼه د کاغذ لاندې کېږدئ او هغه ټاپه کړئ ترڅو دوی ورکړ شوی فعالیت سم اجراء کړای شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


دولسم لوست

# د ونې پاڼه


موخه: د ونې د پاڼې له رسمولو او رنګولوسره دزده‌کوونکو بلدتیا.

۱. تاسې څو ډوله پاڼې لیدلې دي؟

۲. په کوم فصل کې د ونو پاڼې بدلون مومي او کوم ډول رنګ غوره کوي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



فعاليتونه:

زده‌کوونکي دې  د ونې پاڼه د ټولګې د تورې درې  او يا د مخامخ ونې له پاڼې څخه رسم کړي او هغه دې په خپله خوښه رنګه کړي.



ښاغلی ښوونکی دې  د ټولګې په توره دره د ونې پاڼه رسم کړي او د ونې د پاڼې او د هغې د رنګونو په هکله دې زده‌کوونکوته معلومات ورکړي او پورتنی فعاليت دې په زده‌کوونکو سرته ورسوئ. د زده‌کوونکو د هڅونې له پاره دې د دوی رسمونه په مېز، دېوال او يا ځمکه د ليدلو له پاره کېښودل شي او هڅه دې وکړئ چې له دې کړنې څخه په ټولو کې لوستونو ګټه واخلئ.



کورنۍ دنده: کورته د تګ په وخت کې دې زده‌کوونکي د ونو پاڼې ټولې کړي او له هغو څخه دې يوه په خپله خوښه رسم کړي او نورې پاڼې او خپل رسم دې ټولګي ته راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دیارلسم لوست

# د رنګونو ترکیب

موخه: په ساده او عملي توګه د رنګونو له ګډولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

۱. که آبي او زیړ رنګ سره یوځای شي کوم رنګ جوړ وي؟

۲. کوم شیان شین رنګ لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده‌کوونکي دې زیړ او آبي رنګونه په عملي توګه سره ګډ کړي چې له هغــو څخه کوم رنګ په لاس راځي.



ښاغلی ښوونکی: د پورته شکل په شان په یوه پاڼه کاغذ کې د زده‌کوونکو په وړاندې په عملي توګه رنګونه سره یوځای کړئ او د ګډ شــویو رنګونــو د نومونو په هکله له زده‌کوونکو څخه پوښتنه وکړئ. د نه پوهېدو په صــورت کې د هغو نومونه ور وپیژنئ. د زده‌کوونکو ترکیــب شــوي رنګونــه زده کوونکو ورونښيي.



**کورنۍ دنده:** پورتنی فعالیت دې زده‌کوونکي سرته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څوارلسم لوست


# د ونو د پاڼـــو رنګول

موخه: د ونو د پاڼو د انځور ولو او د هغو له رنګولوسره د زده‌کوونکو آشـــنا کول.

۱. څو ډوله پاڼې مو ليدلي دي؟

۱. رسم شوې پاڼې يوله بله څه توپير لري؟

۲. تاسې د ټولګي په توره دړه کوم بل ډول پاڼه انځور ولی شئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده‌کوونکي دې پورتنۍ شکل رسم او په خپله خوښه دې هغه رنګه کړي.



ښاغلی ښوونکی دې د ونو د پاڼو او د هغو د رنګونو په هکله زده‌کوونکو ته معلومات ورکړي او د پورتنیو پاڼو په توپیر دې دوی پوه کړي او هغه دې دټولګي په توره دړه انځور کړي او پورتنۍ فعالیت دې په دوی باندې اجرا کړي!



کورنۍ دنده: د ونو څو ډوله پاڼې په یوه سپین کاغذ وټومبئ او ټولګي ته یې راوړئ!


(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځلسم لوست

# له بېلو بېلو شکلونو څخه د مرغۍ جوړول

**موخه:** د بېلو بېلو شکلونو له یوځای کېدو څخه د یوه شکل د جوړ ولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

۱- په لاندې شکل کې څه شی وینئ؟
۲- د لاندې شکل رنګونه په ګوته کولی شئ؟
۳- دا شکلونه له کومو شیانو څخه جوړ شوي دی نوم یې واخلئ؟









(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده‌کوونکی دې بېل بېل شکلونه انځور او رنګه کړي او بیا دې هغه بیاتي کړي او یو بل شکل دې په نوښتګره ډول ترې جوړ کړي.



ښاغلی ښوونکی! زده‌کوونکي وهڅوئ چې له څو شکلونوڅخه یو شکل په نوبتی توګه جوړ کړي. ترڅو نوبتي روحیه په دوی کې ژوندۍ شي د مثال په توګه د منې، ګازرې او پانې له یوځای کېدو څخه یوه مرغۍ جوړېدلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپاړسم لوست


## د ونې د پاڼې ډيزاين


موخه: د زده‌کوونکو د سويې د لوړتيا پخاطر د پاڼو د ډيزاين رسمول.

۱. له څو ډوله ډيزاينونو سره آشنا شوي ياست؟

۲. آيا د ونو پاڼې د ډيزاين په شکل کارولی شئ؟

۳. ډيزاين څه ارزښت لري؟





(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

پورتني ډیزاینونه دې زده‌کوونکي انځور کړي او په خپلو کارونو کې نوښت هم باید له پامه ونه غورځول شي او خپل ډیزاینونه دې په خپله خوښه رنګه کـــړي او ځینې ډیزانونه دې په رنګه کاغذونو کې بیاتي او په سپینو کاغذونو دې ونښلوي.



ښاغلی ښوونکي! زده‌کوونکي دې پورتني ډیزاینونه انځور کړي او که دوی غواړي چې هغه په رنګه کاغذونو کې رسم او بیاتي کړي نو تاسې هغوی وهڅوئ.



کورنۍ دنده: زده‌کوونکي دې ډول ډول ډیزاینونه انځور او بیاتي کړي او په بل کاغذ دې ونښلوي او ټولګي ته دې راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اووه لسم لوست

# پیشو


موخه: د پیشکو له رسمولو سره د زده‌کوونکو پیژندګلوي.

- د پیشکو په هکله څه معلومات لرئ؟
- تاسو پوهیږئ چې پیشکې چیرته اوسیږي؟
- پیشکې ولې په کورونوکې ساتل کیږي؟

۲




۱



۳



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

په پنسل باندې په ساده کرښو د پیشکو انځورول او تمرین کول.

د زده‌کوونکو له پوهې سره سم په آزاد ډول رسم کول.



ښاغلی ښوونکی دې د پیشکې د ځانګړتیاوو په هکله زده‌کوونکو ته معلومات ورکړي او زده‌کوونکي دې د هغې رسمولو ته وهڅوي. د دوی رسمونه دې د کتابچې په یوه ګوښه کې اصلاح کړي!



کورنۍ دنده: په آزادو خطونو دې زده‌کوونکي پیشو رسم او ټولګي ته دې راوړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## اتلسم لوست


# پیشوګانې

**موخه:** په نوښتګره ډول د پیشکو د رسمولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول

۱. څو رنګه پیشکې مو لیدلې دي؟
۲. کوم حیوانات د پیشکو په شان وینښتان لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده‌کوونکي دې له خطونوڅخه کار واخلي او پیشکې دې رسم کړي او د بېلو بېلو کرښو په واسطه دې د پیشکو وېښتان انځور کړي.



ښاغلی ښوونکی دې د پیشکو د بېلو بېلو ډولونو او د هغو د وېښتانو په هکله زده‌کوونکو ته معلومات وړاندې کړي او وروسته دې زده‌کوونکي وهڅوي چې په نوښتګره توګه پیشکې انځور کړي او په اخیر کې دې رسمونه وارزوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## نولسم لوست


# کبان

موخه: د کبانو له رسم کولو سره دزده‌کوونکو بلدتیا.


۱. تاسې لامبو وهلی شئ؟

۲. سربیره پرکب کوم ژوي په اوبو کې ژوند کوي؟





(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعاليتونه:**

زده‌کوونکي دې په ډلو وويشل شي د هغو ژويو او الوتونکو په هکلـه دې چـې پـه اوبو کې ژوند کوي خبرې وکړي او وروسته له هغې دې د کبانو شکل د ټولګي د تورې درې له مخې رسم اويو بل ته وښيي.



ښاغلی ښوونکی! د بېلو بېلو کبانو او د هغو د رنګونو په هکله زده‌کوونکوته معلومات ورکړه او يو کب په توره دړه انځور کړه. وروسته پورتنۍ فعاليت په زده‌کوونکو اجراء کړه. د زده‌کوونکو د هڅونې له پاره دې د دوی رسمونه په مېز، د ېوال او يا ځمکه د لېـدلو له پاره کېښودل شي او هڅه وکړئ چې له دې طريقې څخه په ټولو د رسونو کې ګټه واخلئ.



کورنۍ دنده: زده‌کوونکي دې له خپل مور او پلار څخه د کب او د اوبو د ژويو په هکله معلومات ترلاسه کړي اوهغه کبان موچې په ټولګي کې رسم کړي دي رنګه کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## شلم لوست


# کبان په خپل چاپېریال کې

**موخه:** د کبانو او د هغو د چاپېریال له رسمولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

۱. اوبه څه رنګ لري؟
۲. له ژویو پرته نور کوم شیان په اوبو کې پیداکیږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده‌کوونکي دې د اوبو د ننه شیان لکه کبان، تیږې، بوټي او داسې نور شیان په اوبو کې د ننه رسم کړي. اوبه دې په آبې رنګ، کبان په سره رنګ او بوټي دې په شنه رنګ رنګه کړي.



ښاغلی ښوونکی دې زده‌کوونکو ته د سمندري ژویو په هکله معلومات ورکړي او بیا دې زده‌کوونکي وهڅوي چې پورتنۍ فعالیت سرته ورسوي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## یوویشتم لوست

# ګل

**موخه:** د ګل له انځورولو سره د زده‌کوونکو آشنا کېدل.

۱. آیا ویلی شئ چې دا څه ډول ګل دی؟
۲. آیا ګلان مو په بېلو بېلو ډولو لیدلي دي؟
۳. څه ډول ګل مو خوښیږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده‌کوونکي دې په ساده او آزادو خطونو یو ګل رسم او هغه دې رنګه کړي.



ښاغلی ښوونکی دې د زده‌کوونکو له ځوابونو څخه وروسته د ګلانو او د هغو د بېلو بېلو رنګونو په هکله زده‌کوونکو ته معلومات ورکړي او د رسم کولو سمه لاره دې ور زده کړي. پورتنی ګل په توره دړه انځور کړئ.



**کورنۍ دنده:** زده‌کوونکي دې د کورنۍ دغړو په مشوره یو ګل انځور او هغه دې رنګه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ويشتم لوست

# دګل رنګول

**موخه:** د ګل دانځورولو او د هغه له رنګه کولو سره د زده‌کوونکو بلدتيا.

۱. تاسې څو رنګه ګلان ليدلي دي؟


۲. ګلان کوم کوم رنګونه لري؟

۳. تاسې کوم رنګ ګل خوښوئ؟





(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده‌کوونکی دې د تورې درې له مخې پورتنی ګل رسم او هغه دې رنګه کړي او بیا دې بیاتي کړي د خپلې کتابچې پشتی دې پرې ښکلی کړي.



ښاغلي ښوونکی دې پورتنی ګل په توره دره رسم کړي او زده‌کوونکي دې د هغې په انځورولو وګماري. او پورتنۍ فعالیت دې پر زده کوونکو باندې سرته ورسوي.



**کورنۍ دنده:** زده‌کوونکي دې یو ښکلې ګل انځور کړي او هغه دې خپلې مورته د سوغات په ډول ډالۍ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درویشتم لوست


# له کاغذ څخه د ګل جوړول

موخه: له سپین اویا رنګه کاغذ څخه د ګل د جوړیدو په طریقه باندې د زده کوونکو بلدېدل.


۱. آیا د ګلانو د لاسي کارونو په ارزښت پوهیږئ؟

۲. د ګلانو له لاسي کارونو څخه څه ګټه اخیستل کیږي؟

۳. په لاس جوړ شوي ګلان مو کله لیدلي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

**زده‌کوونکي دې له بیلګې سره سم یوه مربع شکله پاڼه کاغــذ قــات کــړي او د پړاوونو په پام کې نیولو سره دې کاغذ بیاتي او لاس ته راغلی ګل دې رنګه کړي.**



**ښاغلو ښوونکو: د ټکو په ځایو کاغذ قات او وروسته د پنځم شکل پــه شــان د کاغذ یوه برخه چې په ټکو در ښودل شوې ده بیاتي کړئ ترڅو هغه ګــل چــې غواړی په لاس راشي!**



**کورنۍ دنده: د چاپېریال له ساده موادو څخه یو ګل جوړ کړئ او ټولګي ته یې راوړئ!**


(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورويشتم لوست


# د ګل ديزاين

موخه: په ساده ډول د ډيزاينونو له انځورولو سره د زده‌کوونکو بلدېدل.

۱. په متن کې انځور شوی ډيزاين څه شي ته ورته دی؟
۲. ستاسو د کور په کاليو کې دا ډول ډيزاينونه تر سترګو کيږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیتونه:

زده‌کوونکي دې پورتني ډیزاینونه انځور کړي او هغه دې په یوه رنګ رنګه کړي او د استعداد دلرلو په صورت کې دې په خپلو کاروکې نوښت راولي.



ښاغلی ښوونکی: پورتني ډیزاینونه په زده‌کوونکو مشق اوتمرین کړئ اوکه غواړئ چې په خپلو کاروکې نوښت راولی تاسي یې وهڅوئ باید د دوی ډیزاینونه اصلاح کړئ.



کورنۍ دنده: د مور او پلار په مشوره دې یو ډیزاین رسم کړي او ټولګي ته دې راوړي. اودښوونکی له نظر دې تیر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځه ویشتم لوست


## د ډیزاین رنګه کول

موخه: د ډیزاین له انځورولو اورنګه کولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

- له کوم رنګ سره علاقه لرئ چې رسم پرې رنګه کړئ؟
- د کوموشیانو په مرسته ډیزاینونه رنګه کیږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیتونه:

زده‌کوونکي دې پورتنۍ ډیزاین انځور او هغه دې رنګه کړي د دوی له خوښې سره سم دې ډیزاین بیاتي کړي او هغه دې په یوه سپین کاغذ ونښلوي.



ښاغلی ښوونکی دې د پورتنی ډیزاین د رنګه کولو په وخت کې له زده‌کوونکو سره مرسته وکړي او د هغه د رنګه کولو لارې چارې دې وروښيي. د زده‌کوونکو د هڅونې له پاره دې د دوی رسمونه په میز، دیوال او یا ځمکه د لیدلو لپاره کېښودل شي. هڅه وکړئ چې له دغې لار څخه په ټولو د رسونو کې کار واخلي.



کورنۍ دنده: تاسې پخپلو کورو کې ډیزاینونه تمرین او رنګه کړئ او ټولګي ته يې راوړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږ ویشتم لوست

## ډیزاین


موخه: د ډیزاینونو په انځور ولوکې د زده‌کوونکو د معلوماتوکچه لوړول.

۱. لاندې شکلونه څه شي ته ورته دي؟

۲. له لاندې شکلونوڅخه څه ګټه اخیستل کیږي؟

۳. ډیزاینونه څه ارزښت لري؟

۴. آیا دا شکلونه مو پخوا لیدلي وو؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

پورته ډیزاینونه په ساده، بسیط او نوښتگر ډول انځورکړئ.



ښاغلی ښوونکي دې د زده‌کوونکو له ورتیا سره سم د ځینو ډیزاینونو انځورول او د هغو تمرین د هغوی د هڅوني له پاره په رنگه کاغذ کې یو ډیزاین بیاتي کړی اوپورتنی فعالیت دې په دوی باندې سرته ورسوي!



کورنۍ دنده: زده‌کوونکي دې په خپله خوښه یو ډیزاین انځور کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوه ویشتم لوست

# هیلۍ

موخه: د هیلۍ له انځورولو سره د زده‌کوونکو آشنا کېدل.

۱. څو ډوله کورنۍ هیلۍ پیژنئ؟
۲. آیا ویلی شئ چې لاندې شکل دکوم ډول مرغانو دی اوڅه ګټه تــرې اخیستل کیږي؟
۳. آیا پوهیږئ چې هیلۍ چیرته ژوند کوي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library




**فعالیتونه:**

پورته شکل ته په ځېر سره وګورئ او بیاېې انځور کړئ او په کورکې له خپل مـــور اوپلار څخه د هیلۍ په هکله معلومات ترلاسه کړئ.



ښاغلی ښوونکی دې د ټولګي په توره دړه د هیلۍ انځور وکاږي او د کورنیو مرغانو په هکله دې زده‌کوونکو ته معلومات ورکړي او هغوی ته دې لازمـــې لارښـــوونې وکړي.



کورنۍ دنده: زده‌کوونکي دې په خپله خوښه د کورنیو مرغانو څخه یوانځور کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اته ویشتم لوست


# د هیلۍ رنګول

**موخه: د هیلۍ له رسمولو او رنګه کولو سره د زده‌کوونکو بلدتیا.**


**١. تاسې څو ډوله هیلۍ پېژنئ نومونه يې واخلئ؟**

**٢. تاسې څه ډول الوتونکي خوښوئ؟**



(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیتونه:

زده‌کوونکي دې هیلۍ رسم او رنګه کړي او بیا دې هغه بیاتي او د رسم پــه کتابچه دې ونښلوي.



ښاغلی ښوونکي دې د ټولګي په توره دړه پورتنۍ شکل رسم کړي او د رنګــه کولو په هکله دې معلومات ورکړي او پورته فعالیت دې پر دوی بانــدې ســرته ورسوي.



کورنۍ دنده: زده‌کوونکي دې له کورنیو مرغانو څخه یو په خپله خوښه رسم او رنګه کړي او ټولګي ته دې راوړي او ټولو ته دې وښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نه ویشتم لوست


# له کاغذ څخه د کوترې لاسي کار

موخه: د کوترې له جوړولو سره د لاسی کار په توگه د زده‌کوونکو آشنا کول.


۱. څو ډوله کوترې مو لیدلي دي؟

۲. له کومو موادوڅخه کوتره جوړولی شئ؟

۳. کوم ډول کوتره موخوښیږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده‌کوونکي دې د پورته شکل سره سم د ټکو له ځایوڅخه خپل کاغذ قات او یوه کوتره دې جوړه کړي!



ښاغلی ښوونکی! د پورته شکل بېل بېل پړاونه په نظر کې ونیسئ او یوه کوتره د لاسي کار په توګه د زده‌کوونکو په مخ کې جوړه کړئ.



کورنۍ دنده: کوتره مو چې په ټولګي کې جوړه کړې ده هغه په خپله خوښه رنګه کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دیرشم لوست

# د ګوتو په واسطه ټاپه کول

**موخه:** د ګوتې له ټاپه کولو او له بېلو بېلو حرکتونو سره د زده‌کوونکو آشنا کول

۱- آیا پوهیږئ چې دا رسمونه د څه شي په واسطه شوي دي؟

۲- لاندیني شکلونه چې د ګوتو له ټاپو څخه جوړ شوي دي څه شي ته ورته دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

**زده‌کوونکي دې په ډلو وویشل شي او خپلې ګوتې دې په بیلابیلو رنګونـــو ککړې او بیا دې هغه په یو سپین کاغذ باندې ټاپه کړي او وروسته دې لکه څرنګه چې په پورتنی شکل کې در ښودل شوي دي په هغې باندې مختلـــف شکلونه په نوښتګره ډول رسم کړئ.**



**ښاغلی ښوونکیه! د زده‌کوونکو په رسمونو کې د بیلو بیلو حرکتونو او د ځینـــو ژوو ورته والی ور په ګوته کړه او زده‌کوونکي پورتني فعالیت ته وهڅوه او بیا د ژوو په هکله دوی ته معلومات ورکړه، مثلاً انسان د قهر او خندا، حیوانات د تیښتې، شاته کتلو او د خوب په حال کې او داسې نور.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو دیرشم لوست


### بیړۍ

موخه: د بیړۍ له جوړولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.


۱. آیا تاسی بیړۍ لیدلي ده.

۲. له بیړۍ څخه څه ګټه اخیستل کیږي؟

۳. څو ډوله بیړۍ مولیدلي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیتونه:

د درکړل شوې لارښوونې له مخې له یوه سپین کاغذ څخه یوه بېړۍ جـــوړه او رنګه یې کړئ!



ښاغلی ښوونکي دې د پورته شکل پراوونه په نظر کې ونیسي. یو مربـــع شـــکله کاغذ چې د ټکو په واسطه په لومړي شکل کې در ښودل شویدی قات کړي او له کاغذ څخه دې بېړۍ جوړه کړي او بیا دې زده‌کوونکي پورتنی فعالیـــت ســـرته ورسوي. د زده‌کوونکو د هڅونې له پاره دې د دوی لاسي کارونـــه پـــه مېز، دېـوال او یا ځمکه د لېدلو له پاره کېښودل شي او هڅه وکړئ چې له دې تـــګ لارې څخه په ټولو لوستونوکې ګټه واخلئ.



کورنۍ دنده: زده‌کوونکي دې په کور کې یوه بېړۍ جوړه او هغه دې خپل ملګري ته د سوغات په ډول ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دوه دیرشم لوست


# په ځنډو کې لاسي کار


**موخه:** د کاغذ دلمن لیک له جوړولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.


۱. په لاندې شکل کې څه شی وینئ؟

۲. کوم شیان د لاسي کارونو د جوړولو له پاره پکاریږي؟










(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعاليتونه:**

زده‌کوونکي دې د پورتني لاسي کار دپړاوونو په پام کې نيولو سره پورتنی لاسي کار جوړ کړي.

د ضرورت وړ شيان: بياتې، خط کش، کاغذ او سرش.



شاغلی ښوونکی! يو مستطيل ډوله کاغذ په څو مربع ګانو د زده‌کوونکو په وړاندې قات او څلور کنجونه يې په يوه مساوي اندازه بياتي کړه ترڅو د غوښتنې سره سم لمن ليک لاس ته راشي.



**کورنۍ دنده:** زده‌کوونکی دې يو ډيزاين انځور او رنګه کړي او ټولګي ته دې راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دری دیرشم لوست

# د پاکټ جوړول


**موخه: د لاسي کارونو له جوړېدو سره د زده‌کوونکو بلدتیا.**

**۱. پاکټ له کومو شیانو څخه جوړیږي؟**

**۲. له پاکټ څخه څه ګټه اخیستل کیږي؟**



(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیتونه:

در ښودل شوي پړاوونه په نظر کې ونیسئ او له یوه کاغذخخه پاکټ جوړ کړئ بیا یو ښکلي رسم وکاږئ او رنګه یې کړئ په پاکټ کې یې واچـــوئ او خپل پلار یا مورته یې ډالۍ کړئ.د اړتیا وړ شیان بیاتي، پنډ کاغذ، اوسرېښ دی.



ښاغلی ښوونکی! یو مستطیل شکل کاغذ په څلورو مساوي برخو قات کړه چې د ټکو په واسطه په لومړي شکل کې د رښودل شوي دي او بیا د هــرې ضــلع د نیمائې نه د دویم شکل سره سم د خط په واسطه سره نښلوو او بیایې بیاتي کوو چې دریم شکل په لاس راشي او د دریم  شکل هره ضلع په مساوي ډول نیمایي کوو او د څلوروم شکل په شان د ضلع نقطې سره قات کوو ترڅو پاکټ په لاس راشي.



کورنۍ دنده: زده کوونکي دې په کور کې یو پاکټ جوړ کړي او ټولګي ته دې راوړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلور دیرشم لوست


# په څنډو کې ډیزاینونه

موخه: د څنډو د ښکلا له انځورولو سره د زده‌کوونکو آشناکول.

۱. آیا پوهیږئ چې د لمن لیک ښکلي کول څه ارزښت لري؟
۲. آیا کولی شئ چې په یوه څنډه کې ډیزاین انځور کړئ؟
۳. تاسې څه ډول ډیزاین خوښوئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

د ښنډو د ډیزاینونو له پاره له یوه مناسب رنګ څخه کار واخلئ اوزده‌کوونکي باید نوي ډیزاینونه په خپل فکر په نوښتګر ډول انځور کړي.



ښاغلی ښوونکی! پورتني شکلونه چې د نمـــونې پـــه ډول انځـــور شـــوي دي زده‌کوونکو ته یې په ډیره ساده ژبه بیان کړئ. د دوي وړتیاوې وهڅوئ او هڅه وکړئ چې دوی په خپلو کارونوکې نوښت منځ ته راوړي.



کورنۍ دنده: پورته ډیزاینونه پخپلو کتابچو کې تمرین کړئ اوخپل ښوونکي ته یې وښایاست.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**